2 017550 139621

# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۴۰۰ د غويي اوومه | د ۲۰۲۱ د اپريل ۲۷مه | ۷۱٤مه گڼه

## ځېره

۴ مخ



### جکـ لندن

جک په ۱۹۰۲ میلادي کال کې د (the call of the wild) داستان پر لیکلو بوخت و. دغه داستان هم د نوموړي یو له هغو داستانونو څخه و چې ډېر لوستونکي يې لرل.

# په سيمه کې د کرونا دريمه څپه؛

## افغان چارواکي: د کرونا د دریمې څپې پر وړاندې جدي اقداماتو ته اړتيا ده





د کرونا دریمه څپه او له کرنتین پرته نورې اغېزناکې لارې
۲ مخ

له افغانستان نه د بهرنيو پوځيانو تر وتلو وروسته د ترهگرۍ ضد مبارزه به څنگه کېږي؟
۲ مخ

سولې ته شرطونه او جگړه بې شرطه!
۳ مخ

## کرنې وزارت:

## په هېواد کې د سويابينو توليدات نږدې دوو زره ټنو ته رسېدلي



کرنې وزارت وايي چې په ۱۳۹۹ يم کال کې د هېواد په کچه يو زر او ۹۹۷ مېټريک ټنه سويابين توليد شوي دي.
د دغه وزارت د شمېرو له مخې، کاپيسا د ۹۳۰ ټنو په توليد سره تر ټولو ډېر توليد درلود او په دغه ولايت کې تېرکال په ٦٢٠ هکټاره ځمکه سويابين کرل شوي وو.
د سرچينې په خبره، د سويابينو په توليد کې بلخ، هرات، ننگرهار، پروان، تخار، بغلان، کندز، لغمان او هلمند هم مهمه ونډه لري. په ټوليزه توگه د هېواد په کچه په يو زر او ٦٢۴ هکټاره ځمکه سويابين کرل شوي وو.
د يادونې ده چې سويابين بشپړ پروتيني او مغذي مواد لري او د کورنيو په روغتيا په ځانگړي ډول د ماشومانو د خوارځواکۍ په مخنيوی کې رغنده رول لري.
د کرنې وزارت د مسوولينو په خبره، د سويابينو کرکېله په ۲۰۰۳ز کال کې دود شوې، چې اوس په يو مهم کرنيز توکي بدله شوې او د هېواد په ډېرو ولايتونو کې کرل کېږي.

## راپورونه: په سپين بولدک کې د افغان ځواکونو او پاکستاني مېلشو ترمنځ درنه جگړه شوې

افغان چارواکي وايي چې د افغان او پاکستاني سرحدي ځواکونو ترمنځ پر ډيورنډ کرښه جگړه شوې ده. که څه هم چارواکي وايي چې جگړه دربېدلې، خو د سپين بولدک او چمن ترمنځ لار تړل شوې ده. چارواکي وايي چې پاکستاني لورې د سپين بولدک په لقمان کلي کې د اغزن تار د غځولو هڅه کوله چې له کبله يې د دواړو لورو ترمنځ جگړې پيل شوې ده. په جنوب کې د ۲۰۵ اتل قول اردو وياند ډگروال يحی علوي وايي چې دې نښتې يو ساعت دوام کړی.
هغه زياته کړې: «پاکستاني لورې په لقمان کلي کې اغزن تار غځوي چې زموږ د ځواکونو له لورې يې مخه ونيول شوه، جگړه پر نهه بجې پيل او تر شل باندې لسو بجو پورې يې دوام درلود، د اغزن تار د غځولو د کار مو مخنيوی کړی او زموږ ځواکونه د لومړۍ درجه تيارسي په حال کې دي، دغه راز په دې نښته کې زموږ د لومړنيو معلوماتو له مخې، يو تن سرحدي پوليس ژوبل شوی.»
په ورته مهال ځايي اوسيدونکي بيا وايي چې له تېرو دوو اونيو راهيسې پاکستاني لورى په دې هڅه کې و، چې په لقمان کلي کې پر ډيورنډ کرښه اغزن تار تېر کړي، خو د سيمه‌ييزو اوسېدونکو له مخالفت سره مخ شول.
بلخوا د سپين بولدک کميساري وايي چې د سپين بولدک او چمن ترمنځ لار هم تر جگړې وروسته د هر راز تگ راتگ پر مخ تړل شوې. پاکستاني لورې تر دې مهاله د رامنځته شوې جگړې په اړه څه نه دي ويلي.

## امريکا:

## طالبان دې بېرته د خبرو مېز ته راوگرځي



۵ مخ

## رئیس پیشین تصدی مواد نفتی به سه سال زندان محکوم به مجازات شد



محکمه ابتدایی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، عبدالولید تمیم رئیس پیشین تصدی مواد نفتی را به سه سال زندان و پرداخت ۵۷۴ هزار و ۲۲۱ دالر امریکایی، محکوم به مجازات کرده است.
این محکمه دیروز در غیاب متهم و با حضور وکیل مدافع آن برگزار شده است. تمیم به حکم محکمه اعتراض کرده و گفته است که کسی به وکالت از او در محکمه حضور نداشته است.
طبق اعلام ستره محکمه، در صورت دعوای قاضی این پرونده آمده است که دولت افغانستان هشت هزار تُن گاز مایع را از ترکمنستان خریده بود تا در جریان سال‌های ۹۳، ۹۴، ۹۵ و ۱۳۹٦ از سوی ریاست تصدی مواد نفتی به ادارات به فروش برسد، اما یک هزار و ٦٦ تُن گاز مایع از سوی تصدی مواد نفتی در وقت معین آن فروخته نشده است. به این ترتیب، قاضی موظف پرونده دریافته است که بدون درنظرداشت ضایعات، کسرات و خطرات گاز مایع، بیش از ۵٦۹ هزار و ۹۵۰ دالر امریکایی به دولت خسارت وارد شده است.
به این ترتیب، هیأت قضایی محکمه ابتدایی رسیده‌گی به جرایم سنگین فساد اداری مرکز عدلی و قضایی، رئیس پیشین تصدی مواد نفتی را به اتهام سوء استفاده از صلاحیت‌های وظیفه‌ای به سه سال «حبس تنفیذی» و پرداخت ۵۷۴ هزار و ۲۲۱ دالر امریکایی محکوم به مجازات کرده است.
عبدالولید تمیم در یادداشتی در فیس‌بوکش این «فیصله و حکم» را جالب توصیف کرده است. به گفته او، گاز در سال ۱۳۹۲ خریداری شده است، اما او در سال مالی ۱۳۹۵ به عنوان رییس تصدی مواد نفتی و گاز تعیین شده است.



Aksos
اکسوس کتاپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# د کرونا درېيمه څپه او له کرنتين پرته نورې اغېزناکې لارې

د کرونـا د درېيمې څپې د مخنيـوي پـه تړاو د حکومت پـر بـې پروايـي لـه نيوکو وروسـته د عامې روغتيـا وزارت وايـي چـې يـوه طرحـه يې د حکومت لـه مشرانـو سره شريکـه کـړې ده. د روغتيـا وزارت سرپرست وحيـد مجروح ويـلي چـې د دغـه ويـروس د درېيمې څپې مخنيوي لپـاره بايـد جدي اقدامات ترسره شي. هغـه زياتـه کـړې چـې دوی د ايران او پاکستان پولو تـه څېرمـه پـر تگ راتـگ بنديز، له هنـد سره د پروازونـو قطع کېـدل، د راتولېدنـو مخنيـوی او د اضطـراري کمېټـو فعالولـو طرحه لـه حکومت سره شريکـه کـړې ده. هغـه پـر ولايتي رييسـانو هـم غږ کړی چې بايـد د دغه ويـروس مخنيوي لپـاره اړيـن اقدامـات وکـړي او ورتـه پـوره چمتووالـی ونيسـي.

لـه بـده مرغه ښـکاري چـې حکومتـي چارواکـي د نـورو مسـايلو تر څنگ د خلکـو د روغتيا په اړه هـم بـې تفاوتـه دي او د خلکـو روغتيايي حالت ورتـه مهم نه ښـکاري. په داسـې حـال کې چې د افغانسـتان پـه گاونډيـو او نـږدې هېوادونـو کـې د کرونـا درېيمـه وژونکـې څپـه روانـه ده، د افغانسـتان حکومـت لا هـم پـه عملـي ډول د دې څپې د مخنيـوي لپـاره هېڅ نـه دي کړي. اوس چـې ناوختـه شـوی هـم ښـکاري، د عامې روغتيـا وزارت د يـوه پـلان خبـره کـوي، خـو دا پـلان لا هـم عملـي شـوی نـه دی او آن عملـي کـول يې پيل شـوي هم نـه دي. چارواکي وايي چـې پـلان يـې د حکومـت مشرانـو تـه سپارلی او د هغـوی وروسـتۍ پرېکـړې تـه منتظـر دي. لـه بـده مرغـه د حکومت مـشران هـم د واک پر خونديتـوب او نـورو شـخصي گټو بوخـت دي او د کرونـا د دويمـې څپې د مخنيـوي لپاره هڅې او پلانونـه ورتـه مهـم نـه دي. لـه همـدې امله د کرونـا درېيمـه څپه په شـدت سره د افغانسـتان د خلکـو امنيت گواښـي.

داسـې ښـکاري چې د حکومت کړنې بـه د تېر پـه څېـر بيـا هـم ناسـمې او ناوختـه وي. دوی بـه بيـا هـم د افغانسـتان د دننـه کرنتيـن راولي چـې دا چـاره بـه خلـک نـور هـم زيانمـن کـړي دي. د افغانسـتان غونـدې پـه غريـب هېـواد کـې کرنتيـن تـر کرونـا ډېـر زيـان اړوي؛ ځکـه چـې اقتصـاد کمـزوری دی او خلـک اړ دي چې هـره ورځ کار وکـړي. حکومـت هـم پـه داسـې حالـت کـې نـه دی چـې د خلکـو سـتونزې دې حـل کړلـی شي. لـه همـدې املـه کرنتيـن يـوه ناکامـه تجربـه ده چـې وېـره ده حکومـت بـه يې بيـا هـم وکاروي. د دې پـر ځـای چـې ښـارونه کرنتيـن شي او کاروبـار پـه ټپـه ودرول شي، ښـه لاره دا ده چـې د کرونـا د درېيمـې څپـې د راتـگ مخنيوی وشي. د راتـگ د مخنيوي لپاره بايـد لـه هند، ايـران او ټولو نـورو هغـو هېوادونو سره تـگ راتـگ بنـد شي چـې د کرونـا درېيمـه څپـه پکـې خـوره ده. کـه دا ممکنه نـه وي چې دا پروازونـه يـو مـخ بنـد شي، دا کار خـو شـونی دی چـې لـه بهره راتلونکي کسـان بايـد د کرونا ټېسـټ ولـري او يـا هـم افغانسـتان ته لـه راتگ سره سـم بايـد کرونـا ټېسـټ وکړي او تـر ممکنه بريـده تـر جـدي څـار لانـدې ونيـول شي.

اوس وېـره ده چـې د حکومـت بـې پروايـي بـه د دې سـبب شي چې درېيمه څپه افغانسـتان ته راشي او چارواکـي بـه يـې بيـا دلتـه د مخنيوي لپـاره ناکامـې هڅـې کـوي، ښـارونه بـه بنـدوي او خلـک بـه له نـورو سـترو اقتصادي سـتونزو او لـوږې سره مـخ کړي.

# له افغانستان نه د بهرنيو پوځيانو تر وتلو وروسته د ترهگرۍ ضد مبارزه به څنگه کېږي؟

فرانک گارډنر

د امريـکا، برېټانيـا او ناټـو جگړهييـز ځواکونـه را روان اوړی لـه افغانسـتان وځـي. دا پـه داسـې حـال کې ده چې طالبـان پيـاوړي شـوي او ترڅنـگ يـې القاعـده او اسـلامي دولـت (داعـش) هـم بريدونـه ډېـر کـړي دي. اوس پوښـتنه دا ده چـې لوېديځ بـه د پـوځ حضـور لـه پـای او د نظامـي سرچينـو لـه ايسـتلو وروسـته د دغـه خطر مخه څنگـه نيسـي؟

لوېديـځ اسـتخباراتي چارواکـي پـه دې بـاور دي چـې ترهگـرې ډلـې لا هـم غـواړي پـه افغانسـتان کـې لـه خپلـو پټنځايونـو د سپټمبر د ۱۱مـې پـه څېـر د بريدونـو دسيسـې جـوړې کـړي.

د امريکا د ولسـمشر جـو بايډن لخوا د ځواکونـو ايسـتلو لپـاره د ټاکلـې نېټـې رانـږدې کېـدو تـه پـه کتـو دې ننگونـې د برېټانيـا د پاليسـيو مـشران اندېښـمن کړي دي. پـه دې لړ کـې د برېټانيـا لـوی درسـتيز جنـرال سر نيک کارټـر پـه دې وروسـتيو کـې ويـلي: «دا هغـه پايلـه نـه ده چـې مـوږ يـې هيلـه درلـوده.»

پـه داسـې حـال کـې چـې افغانسـتان د يـوه نامالـوم برخليـک پـر لـور گامونـه اخلـي، د دې جـدي خطـر شـته چـې تېـر شـل کالـه د ترهگـرۍ ضـد برخـه کـې پـه خـورا لـوړه بيـه شـوي پرمختگونـه او لاسـته راوړنـې لـه لاسـه ووځـي.

د سـتراتېژيکو مطالعاتـو نړيـوال انسـتيټيوټ کـې د سـيمهييز امنيـت کارپـوه جـان رايـن وايـي: «سـتونزه دا ده چـې وضعيـت پـه ډېـره چټکـۍ او پـه داسـې څـه بدلېدونکـی دی چـې افغـان حکومـت يـې ان لـه لـرې واټـن د امريـکا لـه ملاتـړ سره سره تـاب نـشي راوړی.»

خـو ولسـمشر بايـډن پـر خپلـه خبـره ولاړ دی. هغـه پـه ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ز کلونـو کـې چـې د بـارک اوبامـا پـه اداره کـې مرسـتيال ولسـمشر و، افغانسـتان تـه د سفر پـر مهـال ويـلي وو چـې پـه دغـه هېـواد کـې د ملت جوړونـې هڅـې د وخـت ضيـاع ده او متحـده ايالتونـه بايـد د دې پـر ځـای د ترهگـرۍ پـر ضـد د خپلـو هوايـي بريدونـو او د ځانگـړو ځواکونـو د عملياتـو پـر تـگلاره تمرکـز وکـړي.

خـو پنټاگـون بيـا لـه دغـه وړانديـز سره مخالفـت وښـود او د امريـکا د دفـاع پخوانـي وزيـر رابـرټ گېټـس پـه خپلـو يادداښـتونو کـې ښـاغلی بايـډن داسـې شـخص وبالـه چـې د تېـرو څلـورو لسـيزو پـر مهـال يـې د بهرنـي سياسـت او مـلي امنيـت پـه نـږدې هره مهمـه موضـوع کـې تېروتنـه کـړې ده. اوس پوښـتنه دا ده چـې د سـپټمبر تر يوولسـمې وروسـته بـه پـه افغانسـتان کـې د لوېديځوالـو د ترهگـرۍ ضـد مبـارزه عملاً څرنگـه پـر مـخ ځـي؟

**ډرون بريدونه**

دا بريدونـه ښـايي د پـام وړ ډېـر شي. د اوبامـا د اداري پـر مهـال هـم چـې جو بايـډن ورسره مرسـتيال ولسـمشر و، د بـې پيلوټـه يـا ډرون الوتکـو بريدونـه ډېرېـدل. هغـه مهـال دا بريدونـه تـر ډېـره لـه ډيورنـډ کرښـې هاخـوا پـه قبايـلي سـيمو او د يمـن بېديـاوو کـې د القاعـده شـبکې د مشرانـو پـر پټنځايونـو متمرکـز وو.

اسـتخباراتي افسران وايـي، دغـو پرلـه پسـې بريدونـو د القاعـده شـبکې فعاليتونـه اغېزمـن کـړي وو؛ ځکـه قومانـدانـان يـې د ځـان د خونديتـوب لپـاره اړ وو چـې تـل حرکـت کـې واوسي او پـر يوه ځـای لـه يـوې يا دوو ډېـرې شـپې پاتـې نـه شي.

دغـه کار د هغـوی ترمنـځ د تماسـونو وړتيـا محـدوده کـړې او پـر دې نـه پوهېـدل چـې لـه چا سره بـه تر ليدو وروسـته د دغـه نـه ليـدل کېدونکـي دښـمن د توغنـدي د اور خـوراک گرځـي.

ډرون بريدونـه دومـره سـاده، بـې لانجـې او لـه خطر تـش هـم نـه دي، خـو دغـه خطر سره د دغو بـې پيلوټه الوتکـو چلوونکـي مـخ نـه دي چـې زرگونـه کيلومـتره هاخـوا د نېـواډا يـا لېنکلېنشـير د يـوې پوځـي اډې پـه ايرکنډېشـن لرونکـې خونـه کـې ناسـت وي، بلکـې هغـه ملکيـان ورسره مخامخ دي چـې د هـدف او د بريـد د ځـای شـاوخوا موجـود وي.

د بـې پيلوټـه الوتکـو د عملياتـو لـه لارښـود او د خونديتابـه لـه لارښـوونو سره سره، وروسـتۍ دقيقـه کـې د بريد ځـای تـه د ملکيانـو د ورتـگ او جانبـي زيـان خطـر شـته چـې دا کار څـو ځلـه عـراق او سـوريه کـې شـوی هـم دی. امريکايانـو د داعـش پـر يـوه جـلاد محمـد اېمـوازي «جهـادي جـان» څـو ځلـه هوايـي بريـد يـوازې د دې لپـاره لغـوه کـړی چـې نـږدې ورسره ملکـي کسـان ليـدل شـوي وو.

پـه يمـن کـې هـم خلـک لـه بـې پيلوټـه الوتکو ښـه خاطـره نـه لـري. د بـشري حقونـو فعـالان ادعـا کـوي چـې دغـو الوتکو پـه يمن کـې پـه وار وار پـر قومـي غونډو د وسـله والـو پـه گومـان بريدونـه کـړي دي، خـو پـه افريقـا کـې بيـا کيسـه بـل ډول ده. د سـور سـمندر پـورې غـاړه د جيبوتـي بهرنيـو چـارو وزيـر ان د کمـرې پـر وړانـدې تـه چمتـو شـو چـې پـه خپـل گاونـډ کـې د سـوماليا د الشـباب وسـله والـو پـر خـلاف د بـې پيلوټـه الوتکـو د بريدونـو هرکلـی وکـړي.

**اسـتخباراتي شبکې**

سـي ای اې - ايـم ای شـپږ او نـورو اسـتخباراتي ادارو د تېـرو شـلو کلونـو پـر مهـال د افغانسـتان لـه اسـتخباراتو (اېـن ډي اېـس) سره نـږدې کاري اړيکـې جـوړې او د گوابښـونو پـه پېژندلـو او لـه منځـه وړلـو کـې مرسـته کـړې ده. دوی دا هڅـه هـم کـړې، چـې د ځينـو اشـخاصو د وحشـيانه تـگلارو مخـه هـم ونيسـي.

د لوېديـځ يـوه امنيتـي چارواکـي روانـه اونـۍ وويـل: «مـوږ بـه بيـا هـم (اېـن ډي اېـس) سره د پـام وړ مرسـتې جوگـه واوسـو. يـوازې دومـره ده چـې عملياتـي مـوډل مـو تعديـل شي.»

دا تصـور لـه امکانـه لېـرې نـه دی چـې طالبـان بـه بالاخـره د افغانسـتان د راتلونکـي حکومـت برخـه وگرځـي، نـو ايا لوېديځ بـه لـه دوی سره لـه دومره کلونـو جگـړې وروسـته د اسـتخباراتي مالوماتـو شريکولـو تـه چمتـو شي؟

امنيتـي چارواکـي وايـي، د دغـه کار تصـور بـه ډېـر سـخت وي. بنسـټيزه پوښـتنه دا ده چـې ايا طالبـان بـه پـه دوحـه کـې پـر خپلـه دې کـړې ژمنـه ودرېږي چـې القاعـده شـبکې سره اړيکـې پـرې کـوي؟ ځکـه د ۲۰۰۱ز کال د سـپټمبر لـه بريدونـو کلونـه کلونـه وړانـدې دغـو پيـل شـويو اړيکـو اوس تاريخـي، کورنـۍ او قومـي رنـگ اخيسـتی دی.

طالبـان اوس ځيـرک او پـر دې پـوه شـوي چـې کـه رښـتيا غـواړي پـه افغانسـتان کـې د نړيوالـو لـه خـوا پـه رسـميت د يـوه پېژنـدل شـوي راتلونکـي حکومت برخـه گرځـي، نـو دا کار لـه ترهگرو بلـل شـويو ډلـو سره خوا پخوا د درېـدو لـه لارې ممکـن نـه دی.

پـه برېټانيـا کـې د ايـډن انټلجنـس فکـري مرکز مديـر گاويـن مکنيکـول وايـي، پـه طالبانـو بـاور سـاده تـوب دی: «داسـې ښـکاري چـې د امريـکا اداره پـه خپلـه ناممکنـه خيـالي نـړۍ کـې اوسي (داسـې انگېـري) چـې طالبانـو لـه القاعـده او داعـش سره اړيکـې پـرې کـړي او د بېرتـه ورگرځېـدو اجازه بـه ورنـه کـړي. دوی (طالبـان) پـر خپلـه خبـره نـه درېـږي، وبـه هـم نـه درېـږي او دا کار هېڅکلـه کولـی هـم نـشي.»

**د ځانگړو ځواکونو چاپې**

د لومـړي لاس اسـتخباراتي مالوماتـو پـر بنسـټ، د برېټانيـا او امريـکا د محـدود شـمېر ځانگـړو ځواکونـو د ډلگيـو شـپنيو عملياتـو د وسـله والـو قومانـدانانـو او د هغـوي شـبکو تـه درانـه زيانونـه اړولي دي.

د «ونيسـه يـا ووژنـه» دا ډلگـۍ د شـپې لـه مخـې پـه چورلکـو کـې د ټـاکلي هـدف ځـای تـه لـه رسـېدو وروسـته پلـې گزمـې کـوي. دوی د افغانسـتان لـه ځانگـړو ځواکونـو سره پـه نـږدې همـکارۍ چـارې پـر مـخ وړي او گـڼ پـلان شـوي بريدونـه يـې شـنډ کـړي دي. کـه دغـه علميـات لـه راتلونکـي سـپټمبر وروسـته هـم دوام کـوي، نـو لـه بهـره بـه تـرسره او يـا لـږ تـر لـږه پلانېـږي. پـه دې توگـه بـه پـه دغـو عملياتـو کـې د ځنـډ او يـا يـې د تـرسره کېـدو لپـاره لـه وړانـدې د ورکـول کېدونکـي خبرداري د مالوماتـو د وتلو امـکان ډېـر وي. د دا ډول علمياتـو لپـاره مناسـب وخـت او ځـای هـم داسـې څـه نـه دي، چـې سملاسـتي دې وټـاکل وشي.

**د نويو اډو موندل**

د افغانسـتان پـه ختيـځ کـې يـوه پټـه او محرمـه پوځـي اډه چـې د امريـکا ځانگـړو ځواکونـه تـرې د لومـړې کچې ارزښـتمنو اهدافـو خـلاف د عملياتـو لپـاره د ټـوپ د تختـې پـه توگـه گټـه اخلـي، د تـړل کېـدو پـه حـال کـې ده. دا د داعـش او القاعـده غـړو تـه چـې اوس پـه نيمـه شـپه يـو ناڅاپـه د امريـکا د خـورا پيـاوړو او مجهـزو ځواکونـو د ورسـېدو اندېښـنه لـري، ښـه خبر دی او لـه دې اړخـه بـه يـې وېـره راکمـه کـړي.

پوښـتنه دا ده چـې پـه سـيمه کـې اوس کـوم بـل ځـای د دې مناسـب بديـل گرځېـدای شي؟

لـه جغرافيايـي پلـوه يـې پاکسـتان تـر ټولـو غـوره او څرگنـد بديـل دی، خـو پـه لوېديـځ کـې دا ژور شـک شـته چـې د پاکسـتان د پوځـي اسـتخباراتو (ای اېـس ای) ځينـې عوامـل لـه تونـدلارو اورپکـو ډلـو سره اړيکـې پـالي.

سي ای اې چـې کلـه د ۲۰۱۱ز کال پـه مـې مياشـت کـې پـه پاکسـتان کې د القاعـده شـبکې د مـشر اسـامه بـن لادن د نيولـو يـا وژلـو لپـاره عمليـات کـول، نـو غـوره يـې وگڼلـه چـې پاکسـتان خـبر نـه کـړي او ځانگـړي ځواکونـه يـې د همـدې لپـاره لـه رادار پـه پټـو پاتـې کېدونکـو چورلکـو کـې د پاکسـتان هوايـي حريـم تـه ننوتـل. دوی وېرېـدل چـې څـوک اسـامه تـه د تښـتېدو مالومـات ورنـه کـړي. نـو د همـدې لپـاره تـر پاکسـتان عمـان ښـه احتـمالي بديـل کېـدای شي. دغـه باثباتـه لوېديـځ پلـوه سـلطنت وار لـه مخـه هـم برېټانيـا تـه د سـترو پوځـي اډو ځـای ورکـړی. دا اډې د عـمان پـه ثمريت او د هنـد سـمندر سـواحلو کـې پـه پراتـه دقـم ښـار کـې دي.

خـو دقـم لـه افغانسـتان څـه بانـدې ۱۰۰۰ مايلـه واټـن لـري او د عملياتـو لپـاره د ځانگـړو ځواکونـو لېږدونکـې الوتکـې بايـد بيـا هـم د پاکسـتان لـه فضايـي حريـم تېـرې شي. د بحريـن امکان هـم شـته چـې برېټانيـا پکـې لـه وړانـدې د «اېچ اېـم اېـس جوفاير» پـه نـوم د سـمندري ځواکونـو يـوه کوچنـۍ، خـو د امريـکا سـمندري ځواکونـو بيـا ډېـره سـتره اډه لـري. د مرکـزي اسـيا هېوادونـه هـم لـه پامـه نـه شي غورځـول کېـدای، چـې د افغانسـتان د شـمالي پولـې گاونـډي دي.

امريـکا د ۲۰۰۱ز کال د سـپټمبر د يوولسـمې لـه بريدونـو وروسـته د ازبکسـتان پـه سـويل ختيـځ کـې د کارشي خـان ابـاد کـې ۲ پـه نـوم د شـوروي لـه يـوې پخوانـۍ پوځـي اډې گټـه اخيسـتل پيـل کـړل، خـو امريکايـي ځواکونـه پـه ۲۰۰۵ز کال د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د اړيکـو لـه خرابېـدو وروسـته لـه ازبکسـتان ووتـل. اوس کـه ازبکسـتان امريکايـي ځواکونو تـه بېرتـه د ورگرځېـدو بلنـه هـم ورکـړي، دا کار لانجمـن ښـکاري؛ ځکـه رپوټونـه وايـي، دا اډه پـه کېميـاوي او راډيـو اکټيـف مـوادو خـورا لړلـې ده.

حقيقـت دا دی چـې د افغانسـتان پـه سـتوغو او غرنيـو برخـو کـې د القاعدې او داعـش د محـدود سـاتلو چـاره سـختېدونکې ده. داسـې اسـان بديـل نشـته، چـې منابـع هلتـه ځـای پـر ځـای او د اړتيـا پـر مهـال لنـډ وخـت کـې تـرې گټـه واخيسـتل شي.

نـو د دغـو بهرنيـو ترهگـرو اعـلان شـويو ډلـو خـلاف د مقابلـې ډېـرې هيلـې د افغانسـتان د حکومتونـو پـه لېوالتيـا او اغېزمنتيـا پـورې تړلـې دي. جان رايـن چـې پخوا يـې د برېټانيا پـه حکومت کـې د لـوړې کچـې دنـده درلـوده، د يـوې نـاوړه راتلونکـې وړاندوينـه کـوي. نومـوړی وايـي، افغانسـتان بـه د تونـدلارۍ د اوسـنيو ريښـو ترڅنـگ د بهرنيـو لوبغـاړو لخـوا هلتـه د ترهگريـزو وړتيـاوو د درلـودو د هڅـو لـه کبلـه د ترهگـرۍ د نـوي نسـل د گوابښـونو پـه ځالـه واوړي.

# سولې ته شرطونه او جگړه بې شرطه!

لیکنه: عبدالوحيد وحيد

ټول پوهېږو چې هېواد مو د خپل تاريخ حساس پړاوونه وهي. ننگونې شته، د نوييمې لسيزې د فاجعې په څېر د يوه بل ځپونکي ناورين د تکرار نښې ليدل کېږي. د جنگسالارانو په تحرکاتو کې د ولسي هيلو غوټۍ له سپړېدو وړاندې د رژېدو ښکارونه ليدل کېږي. له بده مرغه موږ لاهم شخص محوره او گوند محوره ذهنيتونه کاروو. نړيوالو هم وپېژندو چې افغانان د خپلو ستونزو د حل لپاره اراده نه لري او ښکېلې خواوې د خپل هېواد ماتې کشتۍ د نجات ساحل ته د رسولو وړتيا نه لري.

کاش چې موږ ملي گټو ته ژمن او په ملي روحيه سمبال ملي مشران درلوداى! ننۍ ننگونې او گواښونه به يې په فرصتونو باندې بدل کړي واى. د تأسف ځاى دى چې دلته په متواتره توگه له هر ډول قيد او شرط پرته جگړه روانه ده، خو کله چې خبره سولې ته رارسېږي، نو د ټول‌شموله، تلپاتې، باعزته (ټول پکې ځان ويني) او داسې نورو اصطلاحاتو په شکل شرطونه اېښودل کېږي.

د ترکيې مهمه ناسته د حکومتي اړخ لخوا د سياسي اجماع نشتون او د طالبانو لخوا په غونډه کې د گډون نه کولو د ناخاپي اعلان له امله تر اوسه د شک او تردد ښکار ده. ځومره به ښه واى چې د ترکيې ناستې ته حکومتي او د طالبانو پلاوي د ځانگړي اړخ د مدافع وکيلانو ډله نه، بلکې د افغان ولس او هېواد د گټو ساتونکې ډلې په توگه گډون کړى واى. د ملي اجماع ممثل پلاوى واى، د ملي گټو پر بنسټ ولاړه او د نړيوالې ټولنې اندېښنو ته ځواب ويونکې پرېکړې کړې واى.

ولسمشر د خپل مشرتابه د خونديتوب په استثنا هر ډول قرباني ته تيار ناست دى. مخکې له وخته ټاکنې هم د حل لاره گڼي، خو هېروي چې له ډاکټر عبدالله عبدالله سره د معاملې کولو له امله د تېرو دوو ځلو ټاکنو اعتبار ته يې په صفر کې ضرب ورکړ. دواړه ځله حکومت د ټاکنو په نتيجه کې نه، بلکې د معاملې په کولو جوړ شو، نو د طالبانو په شان پياوړى جنگي اړخ به څنگه قانع کړاى شي چې د نوموړي تر مشرتوب لاندې ټاکنې ترسره کړي او پايلې يې ومني. دا به خام خيال وي چې، د تېرو دوو ځلو ټاکنو د جنجالي پايلو په شان طالبان په امتياز ورکولو راضي او خپل حکومت ته به دوام ورکړي.

هېڅ شک نشته چې امريکا له افغانستان څخه خپلې پښې سپکول غواړي. که ټول اړخونه ورڅخه پاتې کېدل وغواړي، بيا هم امريکا خپل نظامي حضور ته د پاى ټکى ږدي، خو طالبان تر اوسه پورې نه دي توانېدلي چې په خپل نوښت يوه ځانگړې طرحه ولس حکومت او نړيوالو ته وړاندې کړي، خپلو معقولو غوښتنو ته پکې انعکاس ورکړي او ملت ته وښيي چې هغوى هم د سولې له مفهوم سره سم په ځينې مواردو کې د انعطاف لاره نيولې او دقيقاً څه غواړي. هغوى به په خپلو ليکو کې جدي ستونزې لري، په کور د ننه به له سختو مخالفتونو سره مخ وي، خو له خپل ولس او په بهرنۍ سياست کې له نړيوالو سره همغږۍ ته هم اړتيا لري. دغه دواړې ستونزې په متحدالمال او مبهمو الفاظو د حل وړ نه دي.

لنډه دا چې موږ په پرديو زامنو باندې جگړه کولاى شو، خو د سولې لپاره د واک د قرباني اصل منلو خبره مو په خوله نه راځي، موږ پارونکې ويناوې کولاى شو، خو ژور فکر نه شو کولاى. موږ سوله باعزته غواړو، خو د خپلې جگړې عزت ته مو پام نه دى. عجيبه خو لا دا ده چې موږ سولې ته د رسېدو لپاره د لاسته راوړنو د خونديتوب ضمانت غواړو، خو په جگړه کې هره ورځ د ارزښتونو د له لاسه ورکولو پروا نه کوو. په غولوونکو شعارونو باندې د ځوان نسل احساسات را پارولاى شو، خو د سنجيده خبرې کولو چل مو نه دى زده، د نورو هر ډول وړانديزونه او نظرونه ردولاى شو، خو په خپله د رغنده او عمل وړ نوښت ته مو ملا ماته ده. پردي هېوادونه زموږ په معاملاتو کې د لاسوهنې له امله پړه گڼلاى شو، خو خپل عيبونه نه وينو او بالاخره موږ نړول کولاى شو، خو رغول مو نه دي زده کړي. موږ لاهم نه منو چې له خپل افغان مسلمان ورور سره جگړه نه، سوله مقدسه ده !

د مصالحې عالي شورا د سولې په توحيد شوې طرحه کې د هوکړې پلي کولو ميکانېزم، د اوربند په ضمانتونو او په نورو حياتي مسائلو باندې د تمرکز پرځاى د امتيازاتو د وېش په فيصدۍ، پارلماني نظام تمرکز کړى دى. غني د متمرکز نظام پر بنسټ نه، بلکې له اساسي قانون ورهاخوا په ډيموکراسي کې سوټکراسي چلوي. د داسې سوټکراسي سيستم موږ هم مخالف يو، خو اوس موږ ته سوله لومړيتوب لري.

موږ په استانبول کې د پارلماني يا د متمرکز نظام په ښېگڼو او بديو نه غږېږو، بلکې د روانې ځپونکې جگړې د ختمولو لپاره لارې چارې لټوو. خو زموږ ځينې سياستوال د واک او امتيازاتو ترلاسه کولو هوس په سر اخيستي دي. غواړي په فرعي مسائلو وخت تېر کړي. اوربند، د اوربند رغنده ځار، د سرغړونې د مخنيوي څرنگوالى، په انتقالي حکومت کې د واک د وېش او له هغه وروسته دايمي حکومت کې د زعامت ستونزې حللاره موندل، هغه ملي فکر ته اړتيا لري چې اوس يې زموږ په سياسي مشرتابه کې څرک نه لگېږي. د بنديانو خلاصون د اساسي قانون تعديل، د ملي پخلاينې اړتيا، په ټاکنيز سيستم کې ستر اصلاحات هغه موارد دي، چې د گډ تفاهم په نتيجه کې ورباندې هوکړه وشي.

د سولې په پروسه او بين الافغاني تفاهم کې اوسنى تعطيل د دوحې په هوکړه‌ليک کې د ابهاماتو او د امريکا د دوه مخي هژمونيک سياسي تعامل محصول گڼلاى شو. له نړيوالو اړخونو څخه مو اوس هيله دا ده، چې د تعطل په له منځه وړلو کې کورني او بهرني ابعاد بايد په نظر کې ونيسو. په دواړه ښکېلو غاړو باندې د پول(PULL) او د پوش(PUSH) فکتورونه دواړه کارول اړين دي. يعنې ښه به وي چې په هممهاله توگه د ښکېلو خواوو د تشويق عمليه او د فشار عنصر دواړه وکارول شي. داوړې خواوې په اعتماد کې واخيستل شي چې روا گټې يې خوندي دي او په سوله کې ورسره دوکه نه کېږي. د کورنيو او بهرنيو اړخونو له خوا د نظام د احتمالي پاشلتيا او گډوډيو د مخنيوي لپاره هر ډول تيارى بايد شتون ولري. تر څو به پلرونه په جگړه کې د وژل شويو تنکيو ځوانانو جسدونه خاورو ته سپاري؟

تر څو به ورته گورو چې د ملت بچيان جگړو ته هڅوي او خپل زامن يې په بهرنيو هېوادونو کې خوندي ژوند لري؟

بالاخره تر څو به مو مشران د ولس د قرباني گټو ته ناست وي او پردې به مو په دې خبرو تېرباسي چې هېڅا په افغانانو د ډنډې په زور حکومت نه دى کړى؟

ملت مو اوس پوهېږي چې د دواړو خواوو شخړه د ونډو په وېش او د امتيازاتو په ترلاسه کولو کې ده. د سولې تر عنوان لاندې يو او بل ماتولو ته اړم دى. په دغه گډ هېواد کې د گډ ژوند کولو، گډ کار کولو، له نړۍ سره د خپلو ملي گټو په چوکاټ د همغږي کولو هنر يې نه دى زده کړى. طالبان په خپل انحصاري فکري بهير کې بدلون نه شي راوستلى او غني د واک قرباني ته تيارى نه لري.

د اسلامي نظام په نفاذ کې هېڅ افغان هېڅ ستونزه نه لري، افغانستان د ټولو گډ کور دى، جگړه د حل لاره نه ده. دلته هېڅ ډله په يوازې سر حکومت نه شي کولاى. د افغانانو ترمنځ سوله حياتي اړتيا ده. په لاسته راوړنو کې ځينې حياتي ارزښت لري او ځينې زموږ له ارزښتونو سره په ټکر کې دي. ډيموکراسي McDonald يا KFC نه ده چې په غرب کې جوړ او په يو شان خوند او رنگ په ټولې نړۍ کې خلک ورڅخه خوند اخلي. موږ غربي ډيموکراسي کټ مټ دلته نه شو پلي کولاى. زموږ په دوديزه مذهبي ټولنه باندې د غرب ډيموکراسي تپل په خپل ذات کې د ډيموکراسي له اصولو سره په ټکر کې کړنه ده. البته د حکومت د اوسنيو ننداره‌ييزو کړنو برعکس په خوندي ماحول کې د ښځو زده‌کړې او کار کول، د بيان آزادي، د رښو او عامه ټاکنو له لارې د زعامت د تعين خبره له ارزښتناکو لاسته راوړنو څخه حسابولاى شو.

# په سيمه کې د کرونا دريمه څپه؛

## افغان چارواکي: د کرونا د دريمې څپې پر وړاندې جدي اقداماتو ته اړتيا ده

د افغانستان روغتيايي چارواکو په افغانستان کې د کرونا د دريمې څپې له پيلېدو خبر ورکړى او وايي چې د دې څپې پر وړاندې بايد اړين چمتووالى ونيول شي. د عامې روغتيا سرپرست وزير پرون په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې له گاونډيو هېوادونو د کرونا د بلې څپې د راتگ خطر شته، نو له همدې امله دوى حکومت ته يوه طرحه سپارلې چې له مخې يې د دغې څپې د پراختيا مخنيوى وشي. په ورته وخت کې د افغانستان په گاونډيو هېوادونو کې د کرونا دريمې څپې سختې ستونزې پارولې دي او خلک يې اندېښمن کړي.

افغانستان د کرونا د لومړۍ څپې له پيله له جدي خطر سره مخ و، خو افغانان له دې څپې د گاونډيو هېوادونو په پرتله د لږ تلفاتو په ورکړه راووتل، خو افغان چارواکي اندېښنه ښيي چې ښايي د کرونا دريمه څپه خطرناکه او خونړۍ وي. د عامې روغتيا سرپرست وزير وحيد مجروح پرون په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې د کرونا د کنټرول لپاره جدي اقداماتو ته اړتيا ده او د حکومت په گډون عامو افغانانو ته هم په کار ده چې د خپل ځان او کورنۍ د ساتلو لپاره اړين تدابير په پام کې ونيسي.

د روغتيا وزارت سرپرست وحيد مجروح زياته کړې چې دوى د ايران او پاکستان پولو ته څېرمه پر تگ راتگ بنديز، له هند سره د پروازونو قطع کېدل، د راټولېدنو مخنيوى او د اضطراري کمېټو فعالولو طرحه له حکومت سره شريکه کړې ده. هغه پر ولايتي رييسانو هم غږ کړى چې بايد د دغه ويروس د مخنيوي لپاره اړين اقدامات وکړي او بايد پوره چمتووالى ورته ونيسي. سرپرست وزير دغه راز د اکسېجن کموالى هم جدي ستونزه بللې او پر اړوندو ادارو يې غږ کړى، چې ژر تر ژره دې د کرونا ويروس د ناروغانو لپاره د اکسېجن د توليد کچه لوړه کړي.

هغه په خپلو خبرو کې د عامې روغتيا وزارت ولايتي رييسانو ته هم سپارښتنه کړې، چې هر ډول احتمالي پېښو ته بايد تيار وي او د دې وړتيا دې ولري چې په خپلو ولايتونو کې د کرونا وبا د کنټرول لپاره اقدام وکړي. له دې سره جوخت د ننگرهار ولايت ځايي چارواکي وايي چې د کرونا دريمه څپه په دغه ولايت کې پيل شوې ده. د دغه ولايت د عامې روغتيا رياست چارواکي وايي چې هره ورځ تر سلو پورې تازه مثبتې پېښې په دغه ولايت کې ثبتېږي. ننگرهار د ډيورنډ فرضي کرښې ته څېرمه پروت ولايت دى چې تر ډېره خلک له دې لارې پاکستان ته تگ راتگ کوي.

پاکستان، ايران او هند بيا هغه هېوادونه دي چې د کرونا د دريمې څپې اوج پکې دى او هره ورځ د لسگونه کسانو ژوند اخلي. عامې روغتيا وزارت دا خبردارى هم ورکړى چې که له دې دريو هېوادونو سره په تگ راتگ کې اړين روغتيايي تدابير مراعات نه شي، نو ښايي خطرونه يې تر دې هم ډېر شي. د عامې روغتيا وزارت چارواکي وايي چې له پاکستان او ايران سره پر پوله هره ورځ د ۴۰ او۵۰ زرو ترمنځ افغانان تگ راتگ کوي چې په هېواد کې يې د کرونا د بلې څپې خطر لوړ کړى دى.

بلخوا په هند او ايران کې بيا د کرونا تازه څپې ستر ناورين جوړ کړى دى. د وروستيو معلوماتو له مخې، په ايران کې هره ورځ تر پنځو سوو پورې کسان د کرونا له امله مري او اوس په ۲۴ ساعتونو کې د مثبتو پېښو شمېر په دغه هېواد کې تر ۲۰ زرو هم اوړي. په هند کې بيا هره ورځ شاوخوا ۳۵۰ زره نوې مثبتې پېښې ثبت کېږي او دغه هېواد يې له سخت ناورين سره مخ کړى دى. نړيوالو په تېره اروپايي هېوادونو او امريکا په تازه څرگندونو کې ټينگار کړى چې له هند سره بايد د کرونا له امله د بشري ناورين د رامنځ ته کېدو مخنيوى وکړي.



# ستاکهولم: په نړۍ کې د کرونا له خپرېدو سره سره، په نظامي لگښونو کې د پام وړ ډېروالى راغلى

په ستاکهولم کې د سولې نړيوال څېړنيز انستيټيوټ په يوه راپور کې ويلي چې په نړۍ کې د کرونا ويروس له خپرېدو سره سره، نظامي لگښتونه لوړ شوي دي. د ياد راپور پر بنسټ د ۲۰۱۹ز کال په پرتله دا لگښتونه په ۲۰۲۰ز کال کې ۲.٦ سلنه زيات شوي دي.

د راپور له مخې، په داسې حال کې چې يو شمېر هېوادونو؛ لکه چيلي او جنوبي کوريا د خپلې نظامي بودجې يوه برخه پر کرونا وبا ولگوله او نورو؛ لکه برازيل او روسيې تر پلان کړې بودجې کمه برخه ولگوله، د نړۍ نظامي لگښتونه ۱.۹ ټرېليونه ډالرو ته لوړ شوي دي. د راپور له ليکوالانو ډيېگو لوپيس ډيسلوا ويلي چې په اوسنيو حالاتو کې د دومره نظامي لگښتونو تمه نه کېده.

هغه زياته کړې: «خلک به فکر کوي چې د کرونا وبا له کبله بايد نظامي لگښتونه کم شي، خو دا ويلى شو چې لږ تر لږه په ۲۰۲۰ز کال کې کرونا پر نړيوالو نظامي لگښتونو هېڅ اغېز نه دى کړى.

په ۲۰۲۰ز کال کې پنځه هېوادونه چې نظامي لگښتونه يې تر ټولو زيات وو، امريکا، چين، هندوستان، روسيه او برېتانيا دي. دغه هېوادونه په گډه د نړۍ ٦۲ سلنه نظامي لگښتونه لري.

د دغه راپور پر بنسټ د امريکايي پوځ لگښتونه ۷۷۸ ميليارده ډالرو ته رسېدلي چې د ۲۰۱۹ز کال په پرتله ۴.۴ سلنه زياتوالى ښيي. د نړۍ د تر ټولو زيات نظامي لگښت لرونکي هېواد په توگه د امريکا برخه په ۲۰۲۰ز کال کې د نړۍ د ټولو نظامي لگښتونو ۳۹ سلنه وه. د امريکا په نظامي لگښتونو کې پرله‌پسې دريم کال زياتوالى راغلى دى.

په دغه څېړنيز انستيټيوټ کې د څېړونکي الکساندرا مارکسټاينر په وينا، د امريکا اوسنې نظامي لگښتونه ښايي په څېړنو کې د دغه هېواد زياته پانگونه او د ياد هېواد اټومي وسلو پر عصري کولو لگېدلي وي.

د سرچينې په وينا، په نړۍ کې په ۲۰۲۰ز کال کې دويم تر ټولو زيات نظامي لگښتونه د چين وو. دا ۲٦م کال دى چې دغه هېواد پرله‌پسې خپل نظامي لگښتونه زيات کړي دي. د راپور له مخې، چين ۲۵۲ ميليارده ډالره لگښتونه کړي چې د ۲۰۱۹ز کال په پرتله ۱.۹ سلنه زياتوالى ښيي.

خو د راپور له مخې، د روسيې نظامي لگښتونه په ۲۰۲۰ز کال کې تر لومړي پلان شويو لگښتونو ٦.٦ سلنه کم وو چې دا د ۲۰۱۹ز کال په پرتله د پام وړ کموالى ښيي.


ياد راپور وايي چې په ۲۰۲۰ز کال کې د ناټو شاوخوا ټولو هېوادونو نظامي بار زيات شو او په پايله کې يې ۱۲ ناټو غړو هېوادونو د خپلو ناخالصو عوايدو ۲ سلنه بودجه پر خپلو پوځونو ولگوله او دوى د دغه ائتلاف ټاکل شوې موخې ته ورسېدل.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پیښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




تر ټولو خواشینوونکې دا ده، چې ډېری خلک وایي د هند غښتلتیا د هغوی په نرم ځواک کې ده. کله چې موږ غوښتي چې ځواکمن و اوسو او خپل پوځي ځواک ښکاره کړو، زموږ ځینې چلونه زده نه دي. ځینو ویل چې زموږ تر ټولو مهم ځواک زموږ ځبر ځواک دی. کله چې موږ خپل ځبر ځواک نه کاروو، نو له پاکستان څخه تر ټولو بد څه ترلاسه کوو.

دورانی: دا چې اډې پالیسي نه ده، تمه لرم چې پالیسي به هم نه وي. خو په ټوله کې پیغام همدا دی چې څه به وشي. سمه ده د ویر او وحشت د خپرولو هېڅ اړتیا نشته، ځکه خلک غواړي چې ښاغلي دولت ته د کشمیر، پاکستان او هند اړوند مسایلو په پار غوږ ونیسي، د هغوی په کتاب کې همدا شیان دي.

خو که له ما وپوښتئ چې دا څنگه پالیسي ده، زه به ووایم، ماته منطقي ښکاري. امریکا د نړۍ یوازینی ځواک دی چې ټولې نړۍ ته نه یوازې د پیسو له لارې، بلکې په پوځي لحاظ هم لاسرسی لري. هغه داسې یو هېواد دی چې له نورو توپیر لري.چین یو بل ډول دی، هغه هر څه په بل ډول لوبوي. هند هم پرته له شکه یو ځواک دی او هر څه په خپله بڼه لوبوي.

امریکا په دې پوهېږي چې په کومه سیمه کې خپل اغېز په سمه توگه نشي پلی کولای. ځینې اروپایان یې هم ملگري دي. هند له امریکا سره له ستونزو پرته ملگرتیا لري. د بېلگې په توگه، منځنی ختیځ، مرکزي اسیا، پاکستان او افغانستان هغه سیمې دي چې د امریکا اغېز پکې له جدي خنډونو سره مخ دی.

آن د ناټو غړی هېواد لکه ترکیه، (۹۵)سلنه ترکان د امریکایي پالیسۍ خلاف دي، خو د امریکا خلاف نه دي. له اوږد وخت راهیسې ( ۸۰ – ۹۰) سلنه پاکستانیان د امریکایي پالیسیو خلاف رایه کاروي، خو بیا هم غواړي امریکې ته لاړ شي او هلته کار وکړي. لکه افغانان چې زموږ ضد دي، خو بیا هم غواړي پاکستان ته راشي او دلته کار وکړي.

له هغه راهیسې چې امریکا د نړۍ یوازینی زبرځواک دی، آیا دوی هر وخت په دې سیمه کې د پاتې کېدو لپاره د جوړجاړي په ځای تقابل ته مخه کړې؟

په (۲۰۰۲. ز)کال طالبانو غوښتل په افغانستان کې له امریکایانو سره خبرې اترې وکړي، چې اول قدم یې هم اوچت کړ. د طالبانو هر گام او د پاکستان مرسته چې خبرې اترې ترسره شي له پامه وغورځول شوې. رمزفیلډ و نه منل. اوباما د وتلو پالیسي درلوده او د پاتې کېدو لپاره یې جوړجاړی کاوه، خو د حکومت دننه هر څه خرابېدل.

وروستی ځل چې د کابل او طالبانو تر منځ جوړجاړی کېدو، د مري له لومړۍ ناستې وروسته و. دا وخت د افغان استخباراتو مشر رحمت الله نبیل وموندله چې ملا عمر دوه کاله مخکې وژل شوی دی او دا خبر د طالبانو د یووالي د پاشل کېدو له وجې پټ ساتل شوی و. دا پېښه د (۲۰۱۵. ز)کال د جولای پر دېرشمه وشوه، چې له دویم دور ناستو څخه یوازې څو ورځې مخکې وه او په دې توگه هغه ناسته ترسره نشوه.

بیا ملا اخترمنصور هغه کس و چې د طالبانو یوه ډله یې دوحې او بله یې د (۲۰۱۵. ز)کال د جولای پر اوومه د مري اولې ناستې ته لېږلې وه. ملا اخترمحمد د ملا عمر ځایناستی شو او بیا یې طالبان د خبرو اترو لپاره اړ ایستل. خو دی د خبرو اترو پر ځای د (۲۰۱٦. ز)کال د مې په یوویشتمه د امریکایي ډرون لخوا ووژل شو. خبرې اترې بیا وځنډېدلې.

دا ښکاره ده چې امریکایان په کابل کې د روغې جوړې د خبرو اترو اجازه نه ورکوي. اشرف غني هېڅ کوم ملاتړ نه لري او په مجازې توگه له واشنگټن پرته بل ځای نشته. کرزی، سیاف او دوستم په خپلو موقفونو ډاډمن دي، ځکه له جوړجاړي هېڅ وېره نه لري. امریکا همدا کار کوي، ځکه یوازې د تاوتریخوالي په حالت کې ممکنه ده چې د یوه هېواد یوه ډله خلک د نورو پر ضد وکارول شي.

دغه نارامي له امریکایانو سره په یوه بله مهمه برخه کې هم مرسته کوي. که په مرکزي آسیا کې سوله وي، ټول معادن به د چین له خوا وکېندل شي، روسیه هلته لنډه ده او خپل اغېز لري، هند کلتوري اغېز لري، ان هند په تاریخي لحاظ هم نژدېوالی لري. امریکا دا هېڅ نه لري. په نوې لویه لوبه کې که چېرې سوله وي، امریکا بایلونکې ده.

دولت: ته په دې باور یې او زه یې هم لاروی یم، چې له طالبانو سره له خبرو اترو پرته بله لاره نشته. خو زه په دې باور نه یم چې د امریکایانو پالیسي به دا وي، چې په افغانستان کې سوري وکنې او هلته پاتې شي. که چېرې داسې وي او د هند پالیسي هم په امریکایي پالیسي پورې تړلې وي، بیا نو ډېره خواشینوونکې ده.

ما له تا او له رستم شاه چې پر افغانستان باور لري، زده کړې چې یوازینۍ لاره پخلاینه ده. بله کومه لاره نشته. دغه کورنۍ جگړه به تر هغه دوام کوي، څو چې اصلي ډله پکې شامله نشي. طالبان چمتو دي چې ټول تر دوزخ تېر کړي.

دورانی: نه، زه موافق نه یم. دا اصلي شرط دی. ته د وتلو تعهد وکړه، نور موږ هر څه جوړوو.

دولت: ملا ضعیف ماته وویل، موږ کولای شو چې څنگه یې وکړو، موږ به تاجک، اوزبک او ټول پکې شامل کړو.

**دوام لري...**

# جک لندن

حکمت ارین



جک د نړۍ مشهور رومان لیکونکی دی. هغه هم د نورو بریالیو او زحمت کښو کسانو په څېر د ژوند هره نادوده منلې او له لوړو او ژورو ډک ژوند یې تېر کړی. دی خپله په دې اړه وایي: «ما د ژوند ډېرې لوړې- ژورې تجربه کړې، له تنگ لاسیو نیولې تر ډېرو بریالیتوبونو، خو یو څه چې پر ما یې ډېر اغېز کړی دی او ما ته یې نوم او نښان راکړی دی، هغه دا دي چې زه هېڅکله ناامیده شوی نه یم. زه چې له هرې سختۍ سره مخ شوی یم، ډېر وخت مې پرې ځان نه دی ځورولی. کله چې موږ فکر کوو، ځورېږو، نو باید کار وکړو او په داسې څه باندې ځان بوخت کړو چې پوهېږو یو څه ترې لاس ته راوړو. ما د ژوند له هرې ناځوانۍ وروسته لیکل کړي دي، هماغه لیکل مې وو چې زه یې له مخکښو لیکوالانو سره معرفي کړم او له ډېرو سترو انسانانو سره مې اړیکې پیدا کړې. د ژوند له لومړي پړاوه چې سختې تنگ لاسۍ مې تجربه کړې، هماغو لیکنو مې چې ما په سختیو کې کړې وې، را وایستلم. ډېر لوستونکي او ملگري مې پیداکړل.»

جک لندن په سان فرانسیسکو کې په غریبه کورنۍ کې زیږېدلی دی. مور یې له پیله لا خوشبخته نه وه. هغه داسې ناروغۍ نیولې وه چې ان په ځوانۍ کې یې لا وېښتان تویې شوي وو.

د جک اصلي نوم کریفیث چیني دی. هغه د ۱۸۷٦ میلادي کال د جنورۍ په ۱۲مه په سان فرانسیسکو کې په غریبه کورنۍ کې زیږېدلی دی. د نوموړي په اړه ویل کېږي چې مور او پلار یې نه درلودل او بل چا رالوی کړی دی. جک لومړنۍ زده کړې تر یوه حده په همدغه ښار کې وکړې او له هغه وروسته اوکلند ته لاړ او هلته لوی شو. هغه رسمي زده کړې ونه کړې او څه یې چې زده وو، د خپلې شخصي مطالعې پر مټ یې زده کړي وو. نوموړي به چې وخت پیدا کړ، نو د اوکلنډ عمومي کتابتون ته به تلو او هلته به یې بېلابېل کتابونه لوستل. نوموړي له کتابونو سره ډېره مینه درلوده او خپل ټول خالي وخت به یې مطالعه کوله. نوموړي په ۱۸۸۹ میلادي کال کې په یوه کارخونه کې ډېر دروند کار پیدا کړ، خو د مجبورۍ له مخې یې ومانه او کار یې پیل کړ. هغه یوه کوچنۍ کښتۍ واخیسته او د صدفو غلا ته یې ملا وتړله. نوموړی په ۱۸۹۳ میلادي کال کې د یو دریایي زمري د ښکار لپاره له ځینو نورو کسانو سره د کارکوونکي په توگه جاپان ته لاړ. ده هلته ډېر وخت تېر کړ، خو له راتگ سره سم یې په امریکا کې اقتصادي بحران رامنځته شو او خلکو د بېکارۍ او لوږې له امله اعتراضونه پیل کړل. ډېر وخت بېکاره او بې روزگاره په کوڅو کې وگرځېد او وړې وړې بدمعاشۍ یې کولې چې بالاخره په بافلو ښار کې زنداني شو. نوموړي له بند وروسته د ښه ژوند کولو تمثیل وکړ، په اوکلنډ کې یې ښوونځی ولوست او له هغه وروسته یې زړه و چې د کالیفورنیا پوهنتون کې زده کړې وکړي. له دریو میاشتو وروسته یې یاد پوهنتون ته لاره پیداکړه، خو د تنگلاسۍ له امله ونه توانېد چې ادامه ورکړي او له یو کال زده کړو وروسته یې بېرته پوهنتون پرېښود.

جک په ۱۸۹۷ میلادي کال کې له خپلو نورو ملگرو سره د اوسون ښار ته لاړ. هلته ناروغ شو او یو کس یې په وړیا ډول درملنه وکړه. د اور لگونې په نوم کیسه د نوموړي د ژوند دا ترخه تجربه بیانوي. نوموړی بېرته اوکلنډ ته راوگرځېد او یاد ښار ته له رسېدو سره سم یې د سوسیالېزم په تبلیغ او لیکنو پیل وکړ. هغه هڅه وکړه چې د خپلو لیکنو او اثارو د پلورلو له لارې پیسې پیدا کړي چې له ډېرو هڅو وروسته په دغه کار بریالی شو. د نوموړي له دې پرېکړې سره سم په اوکلنډ کې مجلو ډېر لوستونکي پیدا کړل او په دغو مجلو کې بیا داستانونو ډېر لوستونکي درلودل. جک خوشبخت و چې د یوې لیکنې له خپرېدو وروسته یې د لنډو کیسو ډېرو لوستونکو هرکلی وکړ، نوموړي له همدې لارې په کال کې شاوخوا ۱۹۰۰ ډالره عاید پیدا کاوه.

د جک په اړه ډېرو لیکوالانو ویلي چې د هغه اصلي مور او پلار مالوم نه دي او دی په پردي کور کې را لوی شوی دی، خو ځینې هغه بیا وایي چې پلار یې نه دی مالوم، خو مور یې فلورا نومېده چې تر ډېره ژوندۍ وه. فلورا هم د جک په څېر خورا بدبخته وه، هغه سخته ناروغه وه. په ځوانۍ کې لا نه یوازې دا چې خپله ښکلا یې له لاسه ورکړې وه، بلکې وېښتان یې هم تویې شوي وو او تر اخېره به یې خولۍ په سروله.

د جک د ژوند په اړه لیکل شویو کتابونو کې د نوموړي د مور ژوند او د هغې د ناروغۍ علتونه داسې بیان شوي دي: «فلورا په ۲۵کلنۍ کې له خپلې کورنۍ جلا شوه. په سیاټل کې له لنډې مودې ژوند کولو وروسته سن فرانسیسکو ته لاړه، دغه ښار کوچنی و او ډېرو خلکو په ځانگړې توگه نجیب زاده گانو به غوښتل چې د چکر لپاره همدغه ښار ته لاړ شي.»

ځینې وایي چې د جک پلار جان لندن نومېده. هغه پر جک خپل نوم ولوراوه او د یو ښه او مهربان پلار حق یې ادا کړ. جان له جک سره ډېره مینه لرله. هغه د جک لپاره ټول هغه څه وکړل چې د یو زوی حق پر پلار وي.

د مور وضعیت یې ښه نه و، رواني وضعیت یې خورا خراب و او ورځ تر بلې له کار او ژونده لوېده. پر هغې به کله کله د زړه حمله هم راتله چې ټوله کورنۍ یې ورسره په تکلیف وه.

بالاخره جک له خپلې کورنۍ سره اوکلنډ ته کډوال شو. دغه ښار خورا مزخرف او چټې ښار و، خو دوی د مجبورۍ له کبله ورته راغلل او په همدغه ښار کې یې ژوند اختیار کړ.

جان لندن ځمکه واخیسته او په همدې ترتیب جک په پنځه کلنۍ کې په همدې ځمکه کې پر کار بوخت شو.

هغه څه وخت وروسته پر همدې ځمکه کښت وکړ او دی به یې پالونکی و. نوموړي یوه ورځ په همدې ځمکه کې د کار پر مهال له یو عمر لرونکي بزگر سره د بنگو اوبه وڅښلې چې سخت یې ناروغ کړ او څه وخت وروسته یې په یو واده کې شراب وڅښل چې مست یې کړ او د هغه په ژوند کې یې بدبختۍ لا ډېرې کړې.

کله چې جگ اته کلن شو، خور یې الیزا له خپل یو ټولگیوال سره نکاح وکړه او څو کاله وروسته نوموړي له خپلو دریو اولادونو سره د اوکلنډ یوې بلې سیمې ته لاړه. جک په همدې وخت کې له روحي پلوه هر څه له لاسه ورکړي وو. روحي وضعیت یې خورا خراب او بې حاله شوی و.

څو میاشتې وروسته یې کورنۍ د جک کښت او کار له یاده وایست او بېرته خپل پخواني کور ته لاړل. جک خوشحاله و، ځکه خپلې خور الیزا او جنې ته نږدې کېده. د هغه د ښوونځي په لار کې د پهلوانۍ کلپ و، خوښېده یې چې همدلته پهلواني زده کړي، خو په وس یې نه وه پوره. جک به د ښوونځي پر لاره تل جنگونه کول، که څه هم نوموړی له جسمي پلوه پیاوړی نه و، خو په جنجال او جنگ جوړولو کې یې ښه مهارت درلود.

نوموړی په ۱۴ کلنۍ کې د انگلیسي ژبې له انستېټیوت نه فارغ شو، خو د مالي ستونزو له امله یې ونه شو کولی چې خپلو درسونو ته ادامه ورکړي. بالاخره نوموړي د قوطي جوړولو په کارخونه کې کار پیل کړ. په ماشومتوب کې د نوموړي کار کولو د هغه بدن مردانه او پیاوړی کړی و.

بالاخره اوکلنډ ته د بېرته را ستنېدو پر مهال د جک د بریالیتوبونو وخت هم را ورسېد. نوموړي د شمال ادیسه تر عنوان لاندې یو لنډ داستان ولیک او په ۱۹۰۰ میلادي کال کې یې چاپ کړ. د نوموړي دغه اثر ډېر لوستونکي پیدا کړل او جک یې ډېر وهڅاوه، څو په دې برخه کې خپل کار ته په پوره قوت دوام ورکړي.

نوموړي په همدې وخت کې د ډېرو ناشرانو له خوا د کار کولو وړاندیزونه تر لاسه کړل او ډېرې پیسې یې وگټلې. هغه وو چې د نوموړي په ژوند کې د پام وړ تغیرات راغلل. جک له همدې درکه د کار هغومره سرمایه تر لاسه کوله چې ډېرو وړو تجارانو هم نه شوی تر لاسه کولی.

جک په ۱۹۰۲ میلادي کال کې د (the call of the wild) داستان پر لیکلو بوخت و. دغه داستان هم د نوموړي یو له هغو داستانونو څخه و چې ډېر لوستونکي یې لرل. د همدغه داستان له چاپولو وروسته جک له ډېرو خلکو سره ملاقاتونه کول. ده دا وخت د بسي په نوم له یوې ښځې سره واده کړی و، خو له هغې سره یې دا اړیکه سمه و نه شوای ساتلی. بسي به تل پر جک فشار راوړ، څو شراب خوړل او له پردیو ښځو سره ښکته پورته کېدل پرېږدي، خو جک ونه منل او بالاخره بسي مجبوره شوه چې په ۱۹۰۳ میلادي کال کې محکمې ته لاړه شي او له جک نه یې د جلا کېدو غوښتنه وکړه. جک هم ورسره ومنله او طلاق یې ورکړ. نوموړي څه موده وروسته د چارمیان کیتریج په نامه له یوې ښځې سره واده وکړ او تمه یې دا وه چې ښایي ژوند یې ورسره حد اقل د بسي په څېر تېر شي، خو څنگه چې یې ده تمه لرله، هغه، هغه ډول نه وه. کیتریج د بسي په پرتله ډېره حوصله لرله او د نوموړي پر شخصي ژوند یې چندان ډېر کار نه لاره. هغې د نوموړي پر شراب خوریو او له پردیو ښځو سره پر ښکته پورته کېدو هم کار نه درلود، په ځانگړې توگه په هغه وخت کې چې چې به دی پر لیکوالۍ بوخت و.

جک په امریکا کې د خپل دور تر ټولو غوره لیکوال او رومان لیکونکی و. هغه رومانونه داستانونه، لنډې کیسې، مقالې او نمایشنامې لیکلې چې ټول هغه یې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ وو او ټولو لا ډېر کار او زیار ته هڅاوه.

نوموړي په اتلس کلنه لیکوالۍ کې خورا مهم او مشهور کتابونه ولیکل چې د لوستونکو له تاوده هرکلي سره مخ شول. نوموړي ۵۱ کتابونه او څو سوه مقالې ولیکلې چې بالاخره د ۱۹۱٦میلادي کال د نومبر په ۲۱مه یې په څلوېښت کلنۍ کې له دې دنیا سترگې پټې کړې.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۴۵ |
| € | ۹۳ |
| Rp. | ۴۹۳ |
| ₹ | ۱۰۶۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۸ |

### بېړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

# د ثور اوومه او اتمه؛

## د دوو تاريخي ورځو پرتلنه او ارزونه

حيات الله حليم

هره پديده د عامه ذهنيت په رڼا کې د ارزيابۍ يوه وروستۍ مثبته يا منفي پايله لري. په افغانستان کې د ۱۳۵۷ لمريز کال د ثور اوومه او د ۱۳۷۱ کال د ثور اتمه د افغانستان د سياسي او نظامي تاريخ دوې هغه ورځې دي، چې هېڅ توپير پکې نشته؛ ځکه پايلې يې په څرګنده د افغان ملت په بربادۍ او در په درۍ تمامې شوې دي. يا په بل عبارت، دواړې د افغانانو د ۴۳ کلنې غميزې او بدبختۍ د پيلامې هغه ورځې دي، چې انکار ترې نه شي کېدای، ځکه د متخاصمو ډلو (مجاهدينو- کمونيستانو) ترمنځ بېګناه افغانان د ژرندې د دوو پلونو تر منځ د غنمو د دانو په څېر اوړه او په نتيجه کې يې په ميليونونو کسان شهيدان، ټپيان، بې کوره او پرديو هېوادونو ته کډه شول. ښه ته بد او بد ته ښه ويل او يا د پورته دواړو ورځو تر منځ يوې ته ښه او بلې ته بد ويل به ښايي ايماني، وجداني او مطبوعاتي ګناه وي، توپير يې نشته؛ ځکه په دواړو دورو کې په عام ولس زړه سوی ونه شو، په نسبي ډول مو د دې دواړو دورو مظالم سره پرتله کړي او تاسې قضاوت ته پرې رابولو.

۱- د ۱۳۵۷ کال د ثور له اوومې وروسته

په عام ډول د ثور له اوومې نېټې وروسته په افغانستان کې ملي حکومت پر يوه حزبي حکومت بدل شو او دغه حکومت غوښتل چې د خپلې وارد شوې ايډيالوژۍ ارزښتونه په عام ولس په زور او جبر ومني او تر څنګ يې د دغه حزبي حکومت لخوا داسې تېروتنې هم را منځته شوې، چې په نتيجه کې يې ډېر ژر د هېواد په ټولو برخو کې د مسلمان ملت لخوا قيامونه را منځته شول. موږ د دې شاهدان وو چې پاڅونونه د عام ولس حق و؛ ځکه بې تجربې کمونيستانو د عام ولس په ژوند داسې توره شپه جوړه کړه، چې دوی په غير ارادي ډول پاڅونونو ته اړ شول، د ښوونځيو بې تجربې زده کوونکي، د پوهنتون احساساتي ځوان محصلين چې د سياست او مردمدارۍ په ډګر کې يې د وېښته سر تجربه نه درلوده؛ د ټولنې مخکښان شول. له بل پلوه په نظامي او ملکي سکټور کې هغه چا ته چې د ګوند غړی به نه و، په ډېره سپکه سترګه کتل کېدل او په هېڅ کار کې پرې باور نه کېده، چې په نتيجه کې ټول غير حزبي مامورين مايوس، بېزار او له حکومت سره يې له صادقانه همکارۍ څخه لاس واخيست، کوم چا به چې په ملکي او عسکري دواړو برخو کې په غربي هېوادونو کې زده کړې کړې وې، هغوی ته به دې شک او ترديد په سترګه کتل کېدل، لنډه دا چې د ملک په ټولو اداري او نظامي برخو کې حزبي توب ته فوق العاده ترجيح ورکول کېده' د ملکي او نظامي استخدام په برخه کې حزبي روابط په مسلکي ضوابطو مقدم شول' چا به چې ږيره او سپينې جامې درلودې، له ضرر پرته د دښمن په سترګه ورته کتل کېدل' مذهبي ارزښتونو ته په کنايوي او طنزي لفافه کې سپکاوی کېده، پخواني دوديز عنعنات او کلتور تر پښو لاندې شول' بې وخته او بې اړتيا فرمانونه پرته له دې چې د افغاني ټولنې ضرورت وي' يو پر بل پسې صادرېدل او تر ټولو بد دا چې د شخصي خصومت له وجې په دفترونو کې مامورين' منصبداران محصلين او زده کوونکي د اخوان المسلمين د کمونيستانو په اصطلاح د اخوان الشياطين په نامه متهمېدل، چې په لړ کې يې بې شمېره منصبداران' دولتي مامورين' محصلين او قومي مخور په مختلفو اتهامونو متهم او بنديانېدل، چې په زرګونو له دغو کسانو بيا تر نن ورځې چا ونه ليدل، ځکه زياتره له دغو کسانو په هماغه وخت کې په پوليګونونو کې تر خاورو لاندې شول، چې د دغو مظالمو پر وړاندې عام ولس د هېواد په مختلفو برخو کې د پاڅونونو په ترڅ کې په جهاد پيل کړ. دا وخت شوروويانو هم نظامي مداخله کړې وه، خو په خواشينۍ سره چې د کلونو په تېرېدو سره د جهاد په دورو کې د هېواد په ځينو ولايتونو کې د مجاهدينو ترمنځ خپل منځي کورګډيې جګړې پيل شوې، چې دا جګړې د کمونيستانو په ګټه تمامې شوې، چې د مجاهدينو ليکې کمزورې او يو له بلې سره بدبينې او نفرتونه پيل شول، خو بيا هم مجاهدين وتوانېدل چې کمونيستي رژيم را پرځوي.

ب: د ۱۳۷۱ کال د ثور له ۸مې وروسته

د ياد کال د ثور د مياشتې په پنځمه او شپږمه نېټه حکومت په اردو کې د (پرچمي) جنرالانو لخوا په ظاهراً د يوه ائتلاف په چوکاټ کې د جمعيت اسلامي کابل ته نږدې (شورای نظار) يوې جهادي ډلې ته په جبل سراج کې تسليم شو، چې په نتيجه کې ډېر ژر د کابل په ښار کې د کمونيستانو د ملي اردو او ملي پوليسو تشکيلات رنګ او نظامي يونيفورم خپل ځای ملکي يونيفورم ته پرېښود. په عين وخت کې د کابل ښار په سهيلي برخو کې د حزب اسلامي مجاهدين هم را ښکاره شول، چې په نتيجه کې دواړه ډلې له لومړۍ ورځې څخه په خپل منځي جګړو واوښتلې او په نتيجه کې د کابل ښار د مهمو ځايونو د تصرف په سر وژونکې جګړې را منځ ته شوې. هرې جګړه مارې ډلې هڅه کوله چې د کابل ښار زياتره برخې او وزارتونه تر خپل تسلط لاندې راولي' د پېښور او اسلام آباد معاهدې او تړونونه باد يوړل، نړيوال هم د دوی په ننداره شول او لکه (جنګي زرکان) د خپل منځي جګړو په ډګر يې آزاد پرېښودل. د بي بي سي راډيو به د کابل په هره جنګي برخه کې په دوی پسې ګرده تاوېدله او داسې راپورونه به يې د دوی له فعاليتونو جوړول، چې د نړيوالو د نفرت سبب شي. د دوی د جنګي محاذونو د مرميو تبادلې لاندې پراته کورونه د بېدرغه ځاني او مالي زيانونو متحمل کېدل' جالبه دا وه چې دوی به يو د بل پر ضد په دولتي تاسيساتو کې مورچل نيولي وو اود دې ترڅنګ د کابل ښار نورې برخې هم د دوی ترمنځ د حربي اراضۍ په بڼه وېشل شوې وې، چې سهيلي پلو دارالامان' چهلستون' بالاحصار' کارته نو' بګرامي او احمدشاه بابا مينه د حزب اسلامي قلمرو' د کابل شمال او ختيځ چې خيرخانه' خواجه رواش او څرخي پل د شورای نظار تر لاس لاندې' د قرغې او کمپنۍ برخې قسماً د استاد سياف او د قروغ د غره ختيځې لمنې چې دښت برچي يې هم احتوای کوله' هزاره ګانو نيولې وې.

عام ولس د مجاهدينو تر برياليتوب وروسته په دې باور و چې نور به په افغانستان کې د مجاهدينو د داعيې مطابق جګړه او ورور وژنه ختمه شي؛ خو په عمل کې دا هرڅه ټول سرچپه را وختل، ځکه په ډېره حيرانۍ وليدل شول چې د جهادي تقدساتو رعايت د مجاهدينو په وجود کې يوازې قدرت ته د رسېدلو لپاره يوشعار و؛ ځکه مجاهدينو په لنډه موده کې پرته له دې چې د خپلې جهادي داعيې رعايت وکړي، د کابل ښار يې د يو بل له اورې داسې وويشت چې په لنډه موده کې يې دغه ښار په يوه داسې ويرونکې کنډواله بدل کړ، چې د ورځې به هم ګرځېدونکي پکې ډارېدل' د نورو بدبختيو تر څنګ وړ کاري کدرونه په بيړه له ملک نه وتښتېدل، په دولتي ادراو کې استخدام د ساختګي ډيپلومونو او شهادتنامو په ذريعه تر سره کېده' د پيسو بې سارې تورم رامنځ ته شو او خپل ارزښت يې په لنډه موده کې له لاسه ورکړ. په ميليونونو بې پيشتوانې لوټونه له دوو چينلونو څخه چلند ته را ووتل. په ملک کې د بهرنيو استخباراتي کړيو لاسوهنې ته زمينه برابره شوه' د مدني او بشري حقوقو رعايت له منځه ولاړ' د هېواد مادي او معنوي هستۍ لوټ او تالان شوې، ځکه دا وخت دې مجاهدينو په لباس کې ځينې ډېر قوي او مسلکي (غله) کابل ښار ته را ننوتل او د وزارتونو او نورو دولتي تاسيساتو په چورچپاول يې لاس پورې کړ. ترڅنګ يې د کابل ښار د فابريکو ماشينونه کباړ او د برېښنا تر ځمکې لاندې لينونه د ښاري برېښنا د ويجاړتيا په موخه په ډېره لوړه بيه خرڅېدل. دا ټول هغه څه وو چې د سر په سترګو ليدل کېدل' نو اصل خبره دا ده چې که موږ پورته کړنو ته د مصلحت له مخې روا توجيح ورکړو، نو د مطبوعاتو د سپېڅلتيا او رښتينتوب په اړه به مو خپلې ايماني او وجداني داعيې تر پوښتنې لاندې راوستې وي.

## د ازموينو ملي اداره: د ۱۴۰۰ ز کال د کانکور ازموينه به سبا په ۲۵ ولايتونو کې پيل شي

د ازموينو ملي اداره وايي، د روان لمريز کال د ثور په ۸مه به د ۱۴۰۰ لمريز کال لپاره پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته د کانکور ازموينې پيل او په ۱۰مه نېټه به پای ته ورسېږي. د دې ادارې چارواکي وايي، په ياده نېټه به په ۲۵ ولايتونو کې د دوولسم ټولګيو د فارغانو کانکور ازموينې واخلي. د دغې ادارې د چارواکو په خبره، په لومړي ځل يې د کانکور ازموينې ترسره کول په دريو پړاوونو کې پلان کړي دي.

د دغې ادارې سرپرست عبدالقدير خموش په کابل کې د يوې خبري ناستې پر مهال وويل: «د ۱۴۰۰ کال د کانکور ازموينې د لومړۍ دورې ازموينې په ۸مه نېټه پيل تر ۱۰مې نېټې د دريو ورځو لپاره به د افغانستان په ۲۵ ولايتونو کې ترسره کېږي، دا لومړی ځل دی چې د ۲۵ ولايتونو ازموينې په يوه دوره کې مديريت کېږي.»

خموش وايي، په ۲۵ ولايتونو کې چې ارزګان، بادغيس، باميان، بغلان، پروان، پکتيکا، پکتيا، پنجشېر، خوست، دايکنډي، زابل، سرپل، سمنګان، غور، فراه، کاپيسا، کندهار، کونړ، لغمان، لوګر، ننګرهار، نورستان، نيمروز، هلمند او ميدان وردک ولايتونه دي، نږدې ۹۰ زره داوطالبانو نوم‌ليکنه کړې ده. د نوموړي په خبره، د اتو نورو ولايتونو د کانکور ازموينې به په دويم پړاو کې د روان لمريز کال په ۲۶مه نېټه پيل او درې ورځې به دوام ولري. دغه اداره وايي، د پلازمېنې کابل د کانکور ازموينې نېټه لا نه ده مشخصه شوې.

د ازموينو ملي ادارې په يادو ۲۵ ولايتونو کې د کانکور ازموينې د داوطلبانو د بايومتريک پروسه پيل کړې چې د دوی په خبره، نن به پای ته ورسېږي.

بلخوا د دغې ادارې د تخنيکي او عملياتي چارو مشر يما امان د پوهنتونونو او لوړو زده کړو وزارت د جذب د ظرفيت په اړه وايي: «موږ به سږ کال په ټوله کې شاوخوا دوه لکه داوطلبان ولرو، له دې شمېره ۱۴۳ زره به د ظرفيت لپاره سيالي کوي چې ۷۲ زره‌يې د لوړو زده کړو وزارت د لېسانس برنامو کې دي چې په دې شمېر کې ۳۳ سلنه‌يې نارينه او ۲۰ سلنه به يې ښځې وي او پاتې ۴۵ سلنه بيا عمومي برخه ده، هم نارينه او هم ښځينه داوطلبان کولای شي دغو ظرفيتونو کې سيالي وکړي او ۳۰ زره به انستيټيوټونو ته جذبېږي.»

## امريکا: طالبان دې بېرته د خبرو مېز ته راوګرځي

د سوېلي او منځنۍ اسيا لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستيال وزير ډين ټامپسون کابل ته د خپل سفر پر مهال د سولې خبرو په ګړندي کېدو او د خبرو مېز ته د طالبانو پر بېرته راګرځېدو ټينګار کړی دی.

ټامپسون د ملي مصالحې عالي شورا له رييس عبدالله عبدالله او د جمهور رييس د ملي امنيت سلاکار حمدالله محب سره کتلي دي. نوموړي له عبدالله سره په ليدنه کې د جمهوريت له ادرسه د سولې لپاره د اجماع په پياوړي کېدو هم ټينګار کړی دی. دا د سپټمبر تر ۱۱مې نېټې له افغانستانه د ټولو بهرنيو عسکرو د وتو له اعلان وروسته، درېيم لوړپوړی امريکايي چارواکی دی چې کابل ته راځي.

له هغه وړاندې د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن او په وروستيو کې د ياد هېواد د استخباراتي سازمان سي‌ای‌اې مشر افغانستان ته راغلي دي. د ملي مصالحې عالي شورا وايي، له عبدالله عبدالله سره په کتنه کې ډين ټامپسون ويلي چې طالبان بايد بېرته د خبرو مېز ته راستانه شي.

د دې شورا وياند فريدون خوځون ويلي، ټامپسون زياته کړې، د سولې خبرو د څارلو لپاره به ډېر ژر زلمی خليلزاد قطر او سيمې ته سفر وکړي. د خوځون په خبره: «هغه تمه وښوده چې د افغانستان د سولې لپاره د جمهوريت له ادرسه په مرکز او ولايتونو کې اجماع پياوړې شي. همدارنګه په دې بحث وشو چې د افغانستان د سولې پروسه سرعت پيدا کړي، د خبرو مېز تقويت شي او طالبان د مذاکراتو مېز ته وګرځي».

د سوېلي او منځنۍ اسيا لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستيال وزير د افغانستان د ملي امنيت شورا له سلاکار حمدالله محب سره هم ليدلي دي. د دې شورا وياند رحمت‌الله اندړ وايي، ټامپسون په دې ليدنه کې افغان لورې ته د جمهور رييس بايډن پيغام رسولی دی.

اندړ وايي: «ټامپسون د امريکا د جمهور رييس په راوړي پيغام کې وويل، له افغان امنيتي او دفاعي سرتېرو او افغانستان سره پراختيايي مرستو ته دوام ورکوي او د افغانستان د سولې د پروسې ملاتړ کوي.»

ډين ټامپسون داسې مهال د سولې خبرو پر ګړندي کېدو ټينګار کوي چې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير يو ځل بيا له سياسي لارې د افغانستان د شخړې په حل ټينګار کړی دی. شاه محمود قريشي د ترکيې له ټي‌ارټي ټلوېزيون سره په مرکه کې ويلي، که دا شخړه له سياسي لارې حل نه‌شي، په افغانستان کې به يو ځل بيا کورنۍ جګړه پيل شي.

مسير ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**مرستيال:** شفيق اميرزی

**ايډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري

**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان

**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶

۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۴۰۰ د غويي اوومه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۷مه | ۷۱٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۱٦ | ۳٦ | ۱۲ | ۲۳ | ۱۲ |
| ۲ | ٤ | ۱۹ | ۲ | ۸ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۳ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰٤:۳۸ | ماښام ۰٦:۳۹ | ماخوستن ۰۸:۰۱

سه شنبه ۱۴۰۰/۰۲/۰۷
د سهار اذان ۰۳:۳۳ د ماښام اذان ۰۶:۳۹
رمضان کریم

## نړۍ




سټاکهولم: په نړۍ کې د کرونا له خپرېدو سره سره، په نظامي لګښتونو کې د پام وړ ډېروالی راغلی ۳

## راپورونه: د روسيې يوې محکمې د ناوالني پر دفتر او ټولو فعاليتونو بنديزونه لګولي

د روسيې يوې محکمې د دغه هېواد د حکومت د سرسخته منتقد الکسي ناوالني د دفتر فعالیتونه ناقانونه اعلان او د درولو حکم يې وکړ. د ناوالني پلويانو هم تاييد کړې چې د محکمې پرېکړه دوی ته رسېدلې او د الکسي ناوالني د اداري فساد ضد بنسټ ټول فعاليتونه ځنډول شوي دي. د ياد بنسټ مشر ايوان ژدانوف چې د ناوالني په غيابت کې د دغه بنسټ مسووليت پر غاړه لري، په دې تړاو رسنيو معلومات ورکړي دي. د روسيې محکمه دغه اقدام داسې مهال کوي چې د مسکو د ښارنوال دفتر غواړي د ناوالني دفتر او دوه نور سازمانونه چې له الکسي ناوالني سره تړاو لري، د افراطيانو په توګه راجستر کړي. دغه بنسټونه د روسيې د رژيم له خوا د ازادۍ تر شعار لاندې د ټولنيزې بې‌ثباتۍ او سياسي او ټولنيزو ګډوډيو د رامنځته کولو په هڅه تورن شوي دي. خو ناوالني او د هغه ملګرو دا ادعاوې رد کړې دي. د يادونې ده چې الکسي ناوالني په خپله په بند کې دی او څو ورځې مخکې د ناسم روغتيايي وضعيت په خاطر له زندان څخه روغتون ته لېږدول شوی و. نوموړی د همدې کال په لومړيو کې له جرمني مسکو ته له ستنېدو سره سم بندي شو. جرمني ته په کوما حالت کې وړل شوی و؛ ځکه په نوويچوک زهري ګازو مسموم کړای شوی و.

## افراد مسلح غیرمسئول از هفت سال بدینسو یک معدن گچ در بغلان را استخراج میکنند



معدن گچ به نام شیخ جلال واقع ولسوالی مرکزی بغلان ولایت بغلان، از هفت سال گذشته بدینسو، از سوی افراد مسلح غیرمسئول و مسئولان فابریکه جات گچ استخراج می شود؛ اما ارگان های ذیربط جلو آن را نمی گیرند.

بر اساس معلومات ریاست پترولیم و معادن ولایت بغلان، معدن گچ منطقۀ شیخ جلال، به تاریخ۱۳۸۹/۱۲/۴ قبل از آنکه ریاست معادن و پترولیم در ولایت بغلان به میان آید، قرارداد استخراج آن از سوی تصدی استخراج معادن وزارت پترولیم و معادن؛ با محمد یوسف، حبیب الرحمن، قاسم خان و شیرمحمد امضاء شده است.

منبع گفته است که این قرارداد برای مدت یک سال صورت گرفته بود؛ اما به تقاضای این افراد و تایید استخراج تصدی معادن تا سال ۱۳۹۳ ادامه یافت؛ اما بر اساس معلومات حاصله، پس از این مدت، معدن ذکرشده از سوی افراد مسلح غیرمسئول و مسئولان فابریکه جات گچُ به شکل غیرقانونی استراج می شود.

بر اساس معلومات به دست آمده، ریاست معادن و پترولیم در تاریخ ۱۹ ماه حمل سال ۱۳۹۵، در یک مکتوب به مقام ولایت بغلان نگاشته است که فابریکه جات گچ در معدن شیخ جلال در ولسوالی مرکزی بغلان، به شکل غیر قانونی استخراج می شود.

CoAR 1989
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
اعلان داوطلبی
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه GPE-UNICEF تصمیم دارد که در ولایت غزنی برای حفظ الصحه شاگردان یک مقدار صابون دیتول خریداری نماید. انعده شرکت های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (27April / 2021) الی (7May / 2021) به دست آورد و افرهای قیمتدار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:
خانه نمبر ۴۸ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
اعلان داوطلبی
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه GPE-UNICEF تصمیم دارد که در ولایت غزنی برای حفظ الصحه شاگردان یک تعداد آبدانهای پایه‌دار تهیه نماید. انعده شرکت های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (27April / 2021) الی (7May / 2021) به دست آورد و افرهای قیمتدار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:
خانه نمبر ۴۸ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af


عزیزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT
د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب
عزيزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د ميرمنو جاري حساب درپيژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو ميرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. ميرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماستر ډبټ کارتونوکې د تخفيف له فيس سره په افغانيو او ډالرو کې پرانيزي. ياد حساب د ساتنديه او لنډ پيغام فيس پرته پرانيستلی شي. همداراز د ميرمنو حساب له ټيټ ارتياوړ بيلانس سره يعنې 500 افغانيو او50 ډالرو سره پرانيستل کيږي چې ميرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.
www.azizibank.af 1515